د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد

لنډیز

۱۴ کاله
باکیفیته څېړنه

پال فیشستین ۱۳۹۵

# په کندهار ولایت کې د ساحوي کار په اړه لنډ یادښت، د ۲۰۱۵ ز. دسمبر او د ۲۰۱۲ ز. جنوري: کوکنار او کلیوالي معیشت

## ۱. سریزه

دغه لنډ یادښت، د هغه ساحوي څېړنې په تړاو لومړنۍ کتنې وړاندې کوي، چې د ۲۰۱۵ ز. کال د دسمبر له ۱۴ مه د ۲۰۱۲ ز. کال د جنوري تر ۸ مه د کندهار د ارغنداب، پنجوایي او ژیړي ولسوالیو په لسو ساحوي سیمو کې ترسره شوې دي. په دې لړ کې، په لسو ساحوي سیمو کې ۱۵۰ مرکې په داسې بڼه ترسره شوې، ترڅو د کرنیزو شمتنیو، امنیتي تغییراتو او ښاري بازار ته د نژدېوالي موقعیتونو یوه کړۍ چمتو کړي. د امکان تر بریده، د سیمې جوړې د ارغنداب سیند په دواړو غاړو کې وټاکل شوې. دغه ساحوي څېړنه د ۲۰۱۵/۲۰۱۲ د کرکیلي تر (ژمني) فصل وروسته ترسره شوې، چې د ۲۰۱۴/۲۰۱۵ او ۲۰۱۵/۲۰۱۲ کرکیلي فصلونو ترمنځ د یوې پرتلنې موکه په لاس ورکوي. د ۲۰۱۵ ز. کال د دوبي فصل په تړاو هم معلومات راټول شوي، خو له هغه ځایه، چې دغه ساحوي څېړنه د ۲۰۱۲ ز. د دوبي تر فصل څو میاشتې وړاندې بشپړې شوې وې، نو د دې شونتیا نشته، چې د تېر کال او سږکال د دوبي فصلونو ترمنځ پرتلنه ترسره شي[1].

دغه لومړنۍ کتنې د جغرافیې، موقعیت او د ځمکې او اوبو سرچینو پر بنسټ، په حاصلاتو کې د پام وړ توپیرونو پر شتوالي ټینګار او همدارنګه په دې برخه کې د سیمه ییزو سیاسي او تاریخي شرایطو د ونډې ارزښت په ګوته کوي. په داسې حال کې چې هلته د هغو کورنیو ترمنځ، چې د خپلو ځمکو پر محصولاتو او هغو ترمنځ چې پر نورو شتمنیو تکیه لري، توپیرونه تر سترګو کېږي، خو په ټولیزه توګه، هغه کسان، چې له امنیتي پلوه په خوندي سیمو کې اوسېږي او په کندهار ښار کې بازارونو ته ښه لاسرسی لري، د بېلابېلو کرنیزو توکو کرکیلي یې تر لاس لاندې نیولې او له دې امله، د نغدو عوایدو د ترلاسه کولو لپاره، پر کوکنارو لږه اتکا او د ژوندانه اړتیاوو د پوره کولو لپاره د غنمو کرکیلي ته کمه اړتیا لري. له نشه یي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې ادارې (UNODC) له راپور سره سم، بزګرانو پر ۲۰۱۴/ ۲۰۱۵ ز. کال په دغه ولایت کې پر ۲۱,۰۲۰ هکتارو ځمکو کوکنار کرلي و، خو دغه چاره له دې سره سره چې اټکل کېده، د ۲۰۱۳ / ۲۰۱۴ ز. کال د کرکیلي فصل راهیسې په کندهار کې د کوکنارو د کرل شویو سیمو په کچه کې ۳۸ سلنه کموالی راغلی، دغه ولایت بیا هم تر هلمند او فراه وروسته درېیم ځای لري.

(د UNODC د راپور پر بنسټ، د سویلي او لویدیځې حوزې په ټولو برخو کې، د کښتونو د ناروغیو، ځمکې زیانمنېدو او نورو کرنیزو عواملو په پایله کې، د حاصلاتو د کمښت له امله، په کندهار کې هم د تولید کچه دوه پر درې برخې یعنې له ۹۹۵ ټن څخه ۳۳۸ ټنو ته راکمه شوه[2].) په وروستیو کلونو کې په ارغنداب کې د کوکنارو کرکیلی محدود شوی، خو پنجوایي او ژیړی هغه ولسوالۍ دي، چې د دغه بوټي کرکیلي پکې د پام زیاتوالی موندلی دی؛ پر ۲۰۱۴/ ۲۰۱۵ ز. کال ژیړی د کندهار ولایت په کچه، د کوکنارو د کرکیلي نژدې یو پر څلورمه برخه جوړوله.

د موضوعاتو لیکلړ

۱. سریزه..........................................................۱
۲. ځمکه او د اوبو سرچینې ..................۳
۳. امنیت او حکومتولی............................۴
۴. کرنه.................................................۵
۵. بازار او ستر اقتصاد...........................۷
۶. تریاک او له نشه یي توکو سره مبارزه ....۸
۷. پایله................................................۱۰

د لیکوال په اړه

پال فیشستین په کرهنه او د سرچینو په اقتصاد کې ایم ایس د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد پخوانی مشر دی چې له ۱۹۷۷ کال څخه له افغانستان سره بلد دی. دم ګړی دی خپلواک سلاکار دی.

*دا سند د اروپایي ټولنې په مالي ملاتړ جوړ شوی دی. د دغه سند محتویات یوازې د AREU مسولیت دی او په هیڅ حالت کې د اروپایي ټولنې د دریځ استازیتوب نه شي کولی*

[1] . د باثباته پرمختیا د څېړنو له سازمان (OSDR) څخه مننه کوو، چې د ساحوي څېړنې او د تحلیل او تجزیې په برخو کې یې مرسته وکړه.

[2] . «د افغانستان د تریاکو سروې: ۲۰۱۵: کرکیلی او تولید» (کابل: UNODC/MCN، ۲۰۱۵ز). د مېتودولوژۍ په برخه کې د توپیرونو له مخې، د UNODC او متحده ایالاتو له خوا د کوکنارو د کرکیلي په اړه هم د مطلق مقدار او هم د لړۍ له مخې اټکلونو په تړاو ستر توپیرونه موجود دی. دغه مسله تر ډېره په ولایتي کچه په ځانګړې توګه د کندهار په اړه صدق کوي. (د بېلګې په توګه، پر ۲۰۱۳ ز. کال، د کوکنارو د کرکیلي سیمو په تړاو د متحده ایالاتو اټکل، د UNODC په پرتله چې نژدې یو پر درېیمه برخه ده، ډېر ټیټ دی.) په میتودولوژي کې د توپیر له امله، د محصولاتو په تړاو معلومات باید په احتیاط سره اصلاح شي او دا یو ساده واقعیت دی، چې په دغه چاپېریال کې د محصولاتو د اندازې وړاندې کول، ډېر ستونزمن کار دی.

په کندهار د کوکنارو د کرکیلي عمده سیمه، میوند دی، چې د نشه یي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې اداري له راپور سره سم، له تېرو شپږو کلونو راهیسې د ټول ولایت په کچه له ۳۷ څخه تر ۵۸ سلنې پورې هغه سیمه جوړوي، چې کوکنار پکې کرل کېږي. میوند ، پنجوايي او ژیړۍ د هغو اوو ولسوالیو له جملې څخه دی، چې د امریکا د نړیوالې پرمختیايي ادارې په مالي مرسته، د کندهار د خوړو زون (KFZ) درې کلن (۲۰۱۳ – ۲۰۱۲ز) پروګرام له خوا ، تر پوښښ لاندې راوستل شوې. د دغه پروګرام موخه دا وه، ترڅو بزګران د کوکنارو له کرکیلي څخه لاس واخلي قانوني محصول تولید ته مخه کړي. (KFZ)، په ژیړي او پنجوايي ولسوالیو او د کې د هغو شپږو کانالونو د جوړولو او بیا رغولو په اړه راپور ورکړ، چې درې یې د ساحوي څېړنو په ساحه یا ورته نژدې موقعیت لري[۳].

۳ . «د کندهار د خوړو زون پروګرام لنډه ارزونه»، د خپرېدو نېټه د ۲۰۱۵ ز. د سپتمبر ۳۰ مه، https://www.usaid.gov/news-information/fact-sheets/kandahar-food-zone-program-kfz.

# ۲. ځمکه او د اوبو سرچینې

## الف: اوبه

دري ولسوالۍ، د کندهار ښار په لویدیځ د کوز ارغنداب حوزې په دننه، چې په شمال خیتځه برخه کې له دهلې بند څخه پیلېږي، پرتې دي. د افغانستان د نورو سیمو په شان، دلته هم کورنیو، د کانالونو او لنډو ځاه ګانو پر اوبو د اتکا پرځای، چې پخوا ترې کار اخیستل کېده، د ژورو ځاه ګانو (له ۷۰ تر ۱۰۰ مترو) پر اوبو په زیاتې اتکا سره، د اوبو لګولو اوبه د کمښت په اړه راپور ورکړ. د افغانستان د دغې سیمې په ټولو برخو کې ژورې ځاه ګانې د کاریزونو بدیل ګرځېدلې، چې دغه چاره ناوړې ټولنیزې او هیدرلوژیکې پایلې هم له ځانه سره لري. زیاتره هغه کروندګر چې له مالي امکاناتو څخه برخمن دي، د ژورو ځاه ګانو پر کېندلو لاس پورې کړې او د کوکنارو له خرڅلاو څخه په ترلاسه شویو پیسو، پرې پانګونه کړې ده. په دغو سیمو کې د تر ځمکې لاندې اوبو د کچې د راټیټېدو په تړاو پراخې اندېښنې موجودې وې، په ځانګړې توګه په دښتو کې، چې د ساحوي څېړنې په سیمو کې او د افغانستان د سویل لویدیځې برخې په نورو سیمو کې تر سترګو کېږي، د وګړو پراخ مېشتېدل دوام لري. د کوز ارغنداب د حوزې په اړه مخکنیو اټکلونو دا وو، چې د اوبو د کمښت له امله، دلته ۸۳ سلنه کرنیزې ځمکې په نوبتي ډول کرل کېږي[4]. د پنجوایي په تلوکانو کې ځواب ورکوونکو شکایت وکړ، چې پر ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ ز. کلونو یوې خیریه موسسې دلته له ۲۰ تر ۳۰ مترو په ژوروالي له ۳۰ تر ۴۰ پورې ځاه ګانې وکېندلې، خو او سمهال د تر ځمکې لاندې اوبه کچه ډېره زیاته ټیټه شوې او دغه ځاه ګانې د اړتیا وړ اوبه نه شي برابرولی. (په دې سیمه کې بل شکایت دا و، چې دغه ځاه ګانې د هغو کورنیو لپاره کېندل شوې وې، چې واسطه یې لرله او «نادولتي موسسې» په سمه توګه خپله دنده نه ترسره کوي او یوازې «پیسې اخلي او بس» -- دا د خیریه موسسو د کار په اړه یو ستندرد شکایت و).

د ۱۵۰ تر سروې لاندې کورنیو له ډلې څخه، ۱۱۲ کورنیو په وروستیو کلونو کې د اوبو لګولو په موخه اوبو ته د لاسرسي په برخه کې د یو بدلون د رامنځته کېدو په اړه راپور ورکړ. په ارغنداب کې تر نیمایي لږ زیاتو کورنیو وویل، کوم بدلون نه دی رامنځته شوی او په میانجوی کې زیاترو کورنیو (له ۱۵ څخه ۱۱) وویل، چې د کوم بدلون تجربه یې نه ده کړې. باید یادونه وکړو، چې «د بدلون نه رامنځته کېدل» په الزامي توګه د کافي اوبو د شتوالي په معنا نه ده، بلکې یوازې په دې معنا ده، چې په کچه کې یې کوم زیاتوالی او یا کموالی نه دی راغلی.

## ب: ځمکه

د ژیړي په اشقه او کلک میرسن زي او همدارنګه د ارغنداب په ناګهان او شوین سفلا سیمو کې، په دښتو کې پراخ کښت او د وګړو مېشتېدل تر سترګو کېږي؛ په وروستۍ سیمه کې، ۳۰ سلنه خلکو وویل، چې خپل کورونه یې په دښتو کې نویو سیمو ته لېږدولي دي. د دغې چارې د پراختیا یو لامل، په تېرو وختونو کې د قوماندانانو او یا د نورو د غصب په غبرګون کې د نورو خلکو له خوا د ځمکو غصبول دی. په بېلابېلو ولسوالیو کې تر سروې لاندې یو شمېر کورنیو وویل، چې په دښته کې په بیه یا نورو لارو چارو په مرسته ځمکه ترلاسه کړې ده.

په دغه سمیه کې، ځمکه یا د خپل مالک له خوا پالل کېږي، یا د مزارعې یا اجارې له لارې تنظمېږي. ځمکه په بېلابېلو ډولونو سره په مزارعه ورکول کېږي، چې تر ډېره پر اړتیا وړ هڅو او زحمت، د ښه حاصل برابرولو، او همدارنګه په تاریخي مسایلو، اړیکو، د مزارعه کوونکي وړتیاوې، د چنې وهلو ځواک او نورو عواملو پورې تړلې دي. په هغو ځمکو کې چې د کانال اوبو په وسیله خړوبېږي، د بزګر برخه په معمول ډول یو پر درېیمه برخه ده، په داسې حال کې چې په دښتو کې دغه ونډه کېدای شي، یو پر پنځمه برخه وي. تر ټولو ټیټه ونډه، (یو پر شپږمه برخه ده)، او دا بیا په هغو ځمکو کې دی، چې باغونو ته ځانګړې شوې وي، ځکه باغونه د بزګر کمې هڅې او زحمت ته اړتیا لري. اجاره، تر ډېره د ځمکې پر کیفیت او موقعیت پورې تړلی دی. د ټیټ کیفیت یوه جریبه ځمکه (۰.۴۹۴ اکر یا نژدې د هکتار یو پر پنځمه برخه) چې اوبه و نه لري (په دښته کې وي)، له ۲۰ تر ۶۰ زرو پاکستاني کلدارو (له ۱۹۰ تر ۵۲۵ امریکایي ډالرو) په اجاره ورکول کېږي، په داسې حال کې، چې د لوړ کیفیت لرونکې یوه جریبه ځمکه، چې اوبه هم ولري، له ۱۰۰،۰۰۰ سلو زرو (۹۴۰ امریکایي ډالرو) ان تر ۲۰۰،۰۰۰ دوه سوه زرو پاکستاني کلدارو (۱۸۸۰ امریکایي ډالرو) په اجاره ورکول کېږي. کندهار ښار ته نژدې ځمکې ډېر لږ په مزارعه یا اجاره ورکول کېږي، ځکه د ځمکې مالک کولی شي پر خپلو ځمکو په اسانۍ سره څارنه او ترې مراقبت وکړي، که څه هم په ښار کې واوسېږي. د نلغان په څېر لیرې پرتو سیمو کې، زیاتره لیرې ځمکې د نورو له خوا پالل کېږي. په نلغان کې ویل کېږي، چې ۴۰ سلنه ځمکې یا نورو ته په مزارعه یا په اجاره ورکول کېږي. تر سروې لاندې نژدې دوه پر درېیمه برخه کورنیو یوازې خپلې ځمکې پالې، او یوه پر درېیمه برخه نور، ځمکې یا په اجاره یا مزارعه اخلي، په داسې حال کې، چې لس کورنۍ هم خپله ځمکه او هم د یو بل تن ځمکه پالي. په ټولیزه توګه تر دوه پر درېیمې لږه برخې ځمکې د خپلو مالکینو له خوا پالل کېږي، په داسې حال کې، چې تر یوه پر درېیمې لږه زیاته برخه ځمکې د مزارع یا نور کسان، چې ځمکه په اجاره اخلي، پالل کېږي. خو له دې سره په ټوله سیمه کې په دې برخه کې یو لړ تغییرات تر سترګو کېږي.

---

۴ . په افغانستان کې تر اوبو لاندې ځمکو اتلس، لومړی چاپ–د پلان جوړوونکو لپاره د کار اسناد. راپې فیوري، د اوبو د حوزې سلاکار غلام منور کمال (کابل، جنوري ۲۰۰۴) ۱۴۰.

# ۳. امنیت او حکومتولی

له دې سره سره، چې پنجوايي ولسوالۍ سویل ریګستان، شورابک او ګرمسیر ته د قاچاق پر لار پرته سیمه ده او دغه مسله په خپله ناامني زېږوي، خو د لسو سیمو ساحوي څېړنو په زیاترو برخو کې، ځواب ورکوونکو د امنیتي وضعیت د نسبتا ښه والي په اړه راپور ورکړ. د امنیت په تړاو د ځواب ورکوونکو ټولیز مثبت نظر، د کندهار او هلمند نورو ناامنو سیمو په پرتلنه او همدارنګه په دغه سیمه کې د تېرو کلونو شرایطو په پام سره دی. د ارغنداب په ګډون د ساحوي څېړنې په زیاترو سیمو کې، د داسې کسانو شمېر زیات و، چې د دولت همکار ګڼل کېږي؛ ځکه طالبانو ته په سیمه کې د یوې پردې ډلې په سترګه کتل کېږي او همدا راز کله چې دوی په تېرو کلونو کې پر سیمه ولکه لرله، له خلکو سره په بې رحمۍ سره چلند کاوه. ځواب ورکوونکو په ندرت سره د والي نوم اخیسته، د هغه نوم د زیاترو لپاره ناڅرګند و.

زیاترو خلکو په سیمه کې د سیمه ییزو پولیسو پر حضور تمرکز درلود، چې په سیمه کې پیاوړی ځواک دی او د خلکو پر ورځني ژوند ډېرې زیاتې اغیزې لري. د والي په پرتله امنیه قوماندان عبدالرازق ډېر د اهمیت وړ ګڼل کېده، نوموړی د ولایت نسبتا امن ساتلو په برخه کې، د زیاترو د تایید وړ و: «خلک تر هغه هیله من دی، چې قوماندان رازق په سیمه کې موجود وي؛ موږ کومه اندېښنه نه لرو. موږ د هغه له کارونو څخه خوښ یو. هغه یو ښه سړی دی»[5]. خو له دې سره سره، یو شمېر اندېښنې موجودې وې، په ځانګړې توګه د ګاونډ هلمند ولایت امنیتي وضعیت خرابېدو ته په پام سره، داسې راپورونه موجود و، چې طالبان بیا هم له پولې ها خوا تمویل، تجهیز او تسلیح او په پاکستان کې د یو شمېر عناصرو لخوا لشکر طیبه په مرسته په افغانستان کې جنګېږي.

په سیمه کې د امنیتي وضعیت نسبتا ښه والی، د سیمه ییزو پولیسو د شتوالي له برکته ګڼل کېږي، چې د ساحوي کار له لسو سیمو څخه په اوه یې ځای پرځای شوي دي، خو له هغه ځایه، چې پر زیاترو سیمو سیمه ییز پولیس واکمن دي، نو د سیمې اوسیدونکي په دې اړه ببلابېل او له احتیاطه ډک نظرونه لري. ویل کېږي، چې سیمه ییز پولیس او ملي پولیس تقریبا په ټولیزه توګه، د حاصلاتو د اخیستو په فصل کې له بزګرانو څخه د دوی د کوکنارو کروندو د نه له منځه وړلو په بدل کې پیسې اخلي. (چې معمولې اندازه یې: د کوکنارو د هرې جریبې ځمکې پر سر له ۵،۰۰۰ تر ۱۰،۰۰۰ پاکستاني کلدارو [له ۵۳ تر ۱۰۲ امریکایي ډالرو] او د چرسو د هر جریب په بدل کې ۵،۰۰۰ پاکستاني کلداري [۵۳ ډالره] ده.) خو سیمه ییز پولیس داسې ښکاري، چې په سیمه کې د رښتینی امنیت د ټینګښت په برخه کې هم مرسته کړې او د طالبانو په پرتله، چې تر دې مخکې په سیمه کې حضور درلود، لږ مضر دی. ویل کېږي، چې طالبانو به له خلکو څخه عشر (پر محصولاتو مالیه)، ډوډۍ او نورې ګټې ترلاسه کولې، پر دې بنسټ، د سیمه ییزو او ملي پولیسو له خوا له خلکو څخه اخیستل شوي پیسې او ګټې، معقولې او د هغه په پرتله د وړاندوینې وړ وې. د بېلګې په توګه په میانجوی کې داسې راپورونه موجود دي، چې طالبانو پر ۲۰۰۷ ز. کال ۵۰۰ وګړي وژلي او د انارو د اخیستلو په فصل کې د پولیسو پر پوستو بریدونه کړي، چې د حاصلاتو د اخیستلو پر مخ خنډ ګرځېدلی او همدا راز ونو ته زیان رسېدلی حاصلاتو د اخیستلو

پر مخ خنډ ګرځېدلی او همدا راز ونو ته زیان رسېدلی دی. په سپروان کې ویل کېږي، چې دلته یو شمېر طالبان په جګړه کې ووژل شول، پر دې بنسټ، د سیمې اوسیدونکي پاکستان ته له سفر څخه ډډه کوي، ترڅو هلته د طالبانو له خصمانه کړنو سره مخ نه شي. «خلک دلته له طالبانو څخه کرکه کوي، د بېلګې په توګه هغوی موږ ډېر ځوروي، پر موږ عشر، زکات (مالي مرستې) او ډوډۍ راټولوي. طالبانو له زیاتو سرچینو څخه ګټه اخیستل. همدارنګه کله چې طالبان دلته موجود و، د بې پیلوټه الوتکو بریدونه هم دوام درلود. خو له سیمې څخه د طالبانو تر وتلو وروسته، هوایي بمبارد هم ودرېده، او ټولې چارې سمې شوې دي». یو شمېر ځواب ورکوونکي وایي، که چیرې دوی دې ته مجبورېدل، چې پاکستان ته ولاړ شي، نو دوی به ویل، چې د هلمند اوسیدونکي دي، ځکه سپروان د طالبانو د ملاتړو ترمنځ ډېر بد نوم لري.

په ځینو مواردو کې، د سیمه ییزو پولیسو قوماندانان هغه کسان دي، چې په اصل کې د طالبانو غړي و، خو د هغوی له خوا له خپلو صفونو څخه ایستل شوي و. همدارنګه د سیمه ییزو پولیسو یو شمېر نور قوماندانان د دودیزو کورنیو د واک او قدرت له بیا تثبیت څخه استازولی کوي، او طالب ضد دریځ کېدای شي د تېرو وختونو په قبیلوي لانجو کې رېښه ولري. همدارنګه داسې ښکاري، چې د طالبانو له خوا د توندو قضایي وړاندې شویو پرېکړو په پرتله، ځینې خلک غوره ګڼي، چې خپلې لانجې او د روغې جوړې مسلې (له ولسوالي پرته، چې هلته دولتي سیستم پلي کېږي او جاري دي) د سیمه ییزو مشرانو په وسیله حل کړي.

داسې هم ویل کېږي، چې د سیمه ییزو پولیسو ځینې کسان، د هر جریب عام محصول په سر باندې له ۲۰۰ تر ۴۰۰ پاکستاني کلدارو (۱.۹۰ تر ۳.۸۰ ډالرو) پورې پیسې اخلي. یو شمېر خلکو «په یاد نه درلود» چې آیا سیمه ییز پولیس ترې پیسې اخیستې او کنه، خو زیاتره خلک په کافي اندازه وېرول شوي وو، چې باید پیسې ورکړي. ویل کېږي، چې سیمه ییز پولیس سیمه سره وېشلې دی، په دې توګه لږترلږه داسې بزګران هم موجود و، چې نه شوای کولی، د بدې ببلابېلو غوښتنو ته ځواب ووایي. په ځینو سیمو کې، چې سیمه ییز پولیس او ملي پولیس له خلکو څخه پیسې نه اخلي، نو خلک «هغوی ته یو څه ورکوي، ترڅو هغوی خوښ وساتي»[6].

په ټولیزه توګه، رضایت او اقناع، د سیمه ییزو پولیسو د قوماندانانو او سرتېرو په ځانګړتیاوو پورې تړلې دي. په تلوکانو کې، خلک له دولت په ځانګړې توګه د سیمه ییزو پولیسو له چلند څخه خوښ نه و: «سیمه ییز پولیس له خلکو څخه پیسې اخلي او د مشرانو درناوی نه کوي. تاسې نه شي کولئ له سیمه ییزو پولیسو سره لانجه وکړئ، هغوی راځي، ستاسې د کور ترشا ماین خښوي، یا ولسوال ته وایي، چې دی ځینې شیان پټ کړي، په دې توګه ستاسې پای او انجام به په پلچرخي کې وي».

ویل کېږي، په ناګهان کې، چې د کندهار ښار ته څېرمه پرته سیمه ده، سیمه ییز پولیس او ملي پولیس له خلکو څخه پیسې نه اخلي، ځکه له دې ډارېږي، چې د ولایتي چارواکو تر پوښتنې لاندې به راشي، که چیرې یو څوک د فساد ضد ۱۱۹ شمېرې سره تیلفوني اړیکه ونیسي.

۵ . له یو مشر سره مرکه، شوین سفلی، ارغنداب، د ۲۰۱۵ ز. کال، د دسمبر ۲۲ مه.

۶ . له یو بزګر سره مرکه، میانجوی، ارغنداب، د ۲۰۱۵ ز. کال، د دسمبر ۳۱ مه.

# ۴. کرنه

په کندهار کې دوه کرنیز فصلونه شته: اصلي ژمني فصل او کوچني دوبنی فصل، چې د دواړو پراختیا او پرمختیا اوبو ته د لاسرسي په څرنګوالي پورې تړلې ده. د ساحوي څېړنې د سیمو ترمنځ له یو شمېر مهمو توپیرونو سره، په سیمه کې مسلطه کرنه، د غنمو او باغونو دي. د بېلګې په توګه په میانجوی کې، د سروې شویو کورنیو ۹۲ سلنه ځمکې باغونو او پاتې نور یې غله جاتو او نورو کرنیزو محصولاتو ته ځانګړې شوې وې. له بلې خوا، د پنجوایي او ژیړي ولسوالیو په زیاترو سروې شویو سیمو کې، لږترلږه د ځمکو یوه پر درېیمه برخه غنمو او د پام وړ برخه یې کوکنارو ته ځانګړې شوې وه. د غنمو او کوکنارو ترڅنګ، په دغه سیمه کې نور مهم کرنیز محصولات سبزیجات لکه: رومیان، بنډۍ (بامیه)، بانجان او پیاز دی. د ژیړي په ځېنو سیمو کې زیره کرل شوی و. هغه سیمې، چې د کندهار بازارونو ته نژدې دي، د ترکاریو د کرلو لپاره ډېر په زړه پورې دي.

په سیمه کې ډېر باغونه د انګورو دي، خو په ارغنداب کې بیا انار دی. که څه هم په بېلابېلو دورو کې ان د شوروي له نېواک راهیسې په دغه سیمه کې جګړې ترسره شوې، خو د سیمې ډېر باغونه څو کاله مخکې، د امریکایي ځواکونو او طالبانو ترمنځ جګړو په پایله کې، له منځه ولاړل. خو دغه باغونه په پرله پسې توګه بېرته رغول کېږي. د کندهار دغه سیمه په ځانګړې توګه پنجوایي، د ممیزو د بېلابېلو ډولونو لکه: تور، شنه، سره او د لوړې کچې ابچوش (د غټو ممیزو یو ډول) د تولید سرچینه ده. په یو شمېر سیمو کې، نور لکه د زردالو، شفتالو او آلو باغونه هم شته.

د دوبي د کرکیلي فصل په بهیر کې، هغه کرنیز توکی چې کرنه یې ډېر مروج او معمول دی، جواری دی (خو د سیمه ییزو امنیتي چارواکو له خوا یوازې لږترلږه په یوه سیمه کې یې کرنه ممنوع ګرځول شوې، ځکه ویل کېږي، چې د وسله والو لپاره خوندي پټنځایونه جوړوي)، تر جوارو وروسته، ریحان او ماش ډېر کرل کېږي. په ډیمراسي کې ویل کېږي، چې د ریحانو کرنه، په تېرو دریو کلونو کې تر هغه وروسته دود شوې، چې د دولت او نادولتي موسسو له خوا په سیمه کې وروپېژندل شو. (همدارنګه ویل کېږي، چې د زعفرانو بوټی هم د ۲۰۰۵/ ۲۰۰۷ کال په بهیر کې په دې سیمه کې معرفي شوی و، خو کرنه یې ځکه له ماتې سره مخ شوه، چې په نامناسبو سیمو کې یې د کرنه هڅه شوې وه او یوازې واسطه لرونکو ته ورکړل شوی و.) د ریحانو بوټي بېلابېل ډولونه، چې په سیمه کې کرل کېږي، د تودو اقلیمو لپاره د شربتونو وو د برابرولو او همدارنګه په درملو کې ترې د کار اخیستلو په موخه، هند ته صادرېږي.

د ریحانو بوټي یو بل ډول، چې تور ریحان نومېږي او په خواړه او درملو کې ترې کار اخیستل کېږي، دلته نه کرل کېږي. دغه بوټی د بوټي له یو روزنځای څخه پیوندېږي او د غنمو حاصلاتو تر اخیستلو وروسته کرل کېږي. دغه بوټي کمې اوبو، خو ډېر بشري ځواک ته اړتیا لري. پاڼې او ساقه یې غورځول کېږي یا د سوند توکي په ډول ترې کار اخیستل کېږي، خو دانه یې د ګټې وړ ده. د دغه بوټي له هر جریب څخه له ۳۵ تر ۲۰ کندهاري منو (یو من = ۴.۵ کیلوګرامه ده) حاصل اخیستل کېږي، چې له ۵۰۰ تر ۷۰۰ کلدارو (۴.۷۰ تر ۷.۲۰ ډالرو) پورې پلورل کېږي. چرس هم د دوبي فصل په بهیر کې په ځانګړې توګه په ژیړي کې کرل کېږي. همدارنګه یو شمېر کورنۍ د دوبي فصل پرمهال په پنجوایي کې پر یوې ټوټې ځمکې د کوکنارو د کرکیلي په اړه هم راپور ورکړ. (چې د دغو میاشتو په اقلیمي شرایطو کې یې کرل ډېر غیرمعمول برېښي.) د ارغنداب او پنجوایي په یو شمېر سیمو کې ترکاري کرل شوی و. په میانجوی کې بیا باغونه د دوبي د کرکیلي فصل یوازینی کرنیز محصولات وو.

هلته په پرله پسې توګه د باغونو او نویو کرنیزو توکو لکه د ریحانو کروندو پراختیا تر سترګو کېږي، چې په ځانګړې توګه د دوبي کرکیلي فصل پرمهال کرل کېږي. لکه څرنګه چې په لاندې برخه کې پرې بحث شوی، تر سروې لاندې کورنیو ترمنځ د کوکنارو د کرکیلي د پراختیا په برخه کې پراخه تنوع تر سترګو کېږي، چې په ژیړي کې لوړه سلنه جوړوي، خو په ارغنداب کې په بشپړ ډول شتون نه لري. په ارغنداب کې کورنیو د باغونو د کرکیلي (چې نغد محصول تولیدوي) لوړه کچه جوړوله، خو د غنمو (چې د کورنیو د لګښت لومړني تولیدات جوړوي) د کرکیلي لپاره یې بیا د ځمکې ډېره لږه برخه ځانګړې کړې وه. په میانجوی او ناګهان کې تر سروې لاندې کورنیو په دغه کال کې د غنمو ډېره کمه اندازه (د کروندو له ۸ تر ۱۴ سلنه پورې) کرلې وه، چې دا په خپله پر نغدو محصولاتو د دغو سیمو د زیاتې اتکا ښودونکې ده. په واقعیت کې په میانجوی کې یوازې یوه کورنۍ یوه اندازه غنم کرلی و. دا له هغو سیمو سره لکه ډیمراسي او تلوکانو سره ډېر زیات په ټکر کې دي، چې هلته تر سروې لاندې کورنیو په ترتیب سره ۳۸ او ۳۵ سلنې خپلې کروندې او ځمکې د غنمو د کرکیلي لپاره ځانګړې کړې وې او له ۱۵ څخه ۱۲ کورنیو په ډیمراسي او په تلوکانو ټولو ۱۵ کورنیو غنم کرلی و. دلته د تر سروې لاندې کورنیو له ډلې ډېره لږه برخه (له ۱۵۰ څخه ۷۰) راپور ورکړ، چې د ۲۰۱۴/ ۲۰۱۵ کال کرکیلي فصل کې یې د خپلو غنمو اړتیاوې له خپلو کروندو څخه پوره کړې او په روان کال کې اټکل کېږي، لږ څه کمې کورنۍ (۶۲) به خپله دغه اړتیا پوره کړي؛ یوازې نهو کورنیو راپور ورکړ، چې تېر کال یې د خپلو غنمو اضافي محصولات یې خرڅ کړی دی.

د ۲۰۱۴/ ۲۰۱۵ او ۲۰۱۵/۲۰۱۲ کلونو د کرکیلي ژمنیو فصلونو ترمنځ، د هغې ځمکې د تناسب په ګډون، چې د عمده محصولاتو د کرکیلي لپاره ځانګړې شوې وې، د تر سروې لاندې کورنیو په کرنیزو حاصلاتو کې د پام وړ کوم بدلون نه تر سترګو کېده. په همدې حال، د ساحوي کار په سیمو کې د کورنیو له خوا د کرل شویو ځمکو په ټولیزه کچه کې بدلون تر سترګو کېږي (د ارغنداب په ځېنو سیمو کې زیاتوالی او د ژیړي په یو شمېر برخو کې کموالی محسوسېږي) خو له دې سره د اجاره شویو ځمکو په کچه کې کموالي څرګندېږي. که څه هم د پنجوایي په تلوکانو او د ژیړي په نلغام، کولک میرسن زی کې یو شمېر کورنیو د کوکنارو د کرکیلي په کچه کې زیاتوالی راوستی، خو په ټولیزه توګه، کورنیو د تېر کال او سږ کال ترمنځ د محصولاتو د کرکیلي ورته ترکیب ساتلی دی. له تېر کال تر سږکال پورې، زیاترو کورنیو د هغې ځمکې کچه ساتلې یا یکې کموالي راوستې، چې غنم پکې کرل؛ خو واقعیت دا دی، چې په ارغنداب کې د ۲۰ تر سروې لاندې کورنیو له ډلې څخه، چې د غنمو کرکیلي ته مخه او په کچه کې یې زیاتوالي راوستې، هېڅ یوه یې پر نغدو محصولاتو او مارکیټ د ډېرې اتکا وړاندیز نه دی کړی.

کروندګر له دې پرته، چې د کرنیزو کیمیاوي توکو په اغیزو او زیانونو او ان واقعي ترکیباتو باندې پوره پوهاوی ولري، دغه توکي کاروي. هیربي ساید [چې یو ډول کیمیاوي توکی دی، چې د هرزه واښه د له منځه وړلو په موخه کارول کېږي]، د ټولو (۱۲۴) کورنیو له خوا کارول شوی و؛ زیاترو دغه مواد د کندهار له ښار څخه ترلاسه کړی و، خو یو شمېر کروندګرو بیا د پنجوایي بازار د کرنیزو کیمیاوي توکو له پلورنځیو څخه اخیستی و (لومړی انځور وګورئ). سربېره پر دې، له څلورو درې برخې کورنۍ د کرنیزو کیمیاوي توکو یو بل ډول کاروي، چې یوازې د رنګ او بوتل د بڼې له مخې پېژندل کېږي. کروندګرو د کیمیاوي فعالو توکو ترکیب، سوداګرۍ او د برنډ نومونو لکه، تاج اوپیک، میکټن، سایپرمینټرین، تاج دورسبین، پین ډیمیتالین، تاج ګرو جي، فرورټ، کولورپایریفوس ۱، فیروسټرین، لمبده

– سايه‌لوړترين او همدارنګه د ځمکې نرموونکې مادې هوميک پاور په اړه راپور ورکړ. يو ډول ايراني کيمياوي توکی، چې په بازار کې عرضه کېږي، ويل کېږي، د هغو موادو په شنډولو کې اغېزمن دی، چې ويل کېږي، د امريکايانو له خوا شيندل کېږي (لاندې برخه وګورئ).

په ټوليزه توګه، د کرنيزو کيمياوي توکو کيفيت تر پوښتنې لاندې دی؛ ځکه زياتره يې د دويم لاس، له وخته تېر او يا تقلبي توکي وي. دغه چاره تر ډېره د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست د کارکوونکو په ناکامۍ پورې تړل کېږي، چې د دغو توکو د کيفيت د کنټرول په برخه کې پاتې راغلي او ان ځينې وختونه، دوی له هغو پلورنځيو سره اړيکه لري، چې د ټيټ کيفيت مواد وړاندې کوي. دا هم شونې دی، په داسې حال کې چې بزګرانو ته د موادو د کيفيت په اړه ډاډ ورکول کېږي او د اغېزمنتيا ژمنه يې کېږي، خو بيا هم دغه تضمين په نهايت کې ناهيلي کوونکی وي.

په داسې حال کې، چې زياترو کورنيو (له **۱۵۰** څخه **۱۳۶**) يې وويل، چې لږ تر لږه د برېښنا د توليد (**۱۱۹**) په موخه جنراتور يا يو سولر لري، خو يوازې شپږو کورنيو وويل، چې د اوبو د ايستلو په موخه له سولر څخه برخمن دي. سولري واټر پمپونه په دغه سيمه کې، په هغه کچه نه دي، چې د هلمند په بياباني سيمو کې کار ترې اخيستل کېږي. که څه د دغه سيستم د نصب بشپړې چارې په کندهار ښار کې د پلورنځيو له خوا ټولټال پر **۵،۹۰۰** امريکايي ډالرو ترسره کېږي، خو بيا هم ياد سيستم کولی شي د کندهار د دغې سيمې په اقتصادي کرنه کې ستر بدلون رامنځته کړي. داسې راپورونه شته، چې په شوين سفلا کې بډای خلک په دښتو کې له ځاه ګانو څخه د اوبو د ايستلو په موخه له لمريزې انرژۍ څخه کار اخلي.




۱ انځور: په پنجوايي کې د کرنيزو کيمياوي توکو او تخمونو پلورنځی.

# ۵. بازار او ستر اقتصاد

له کوکنارو او چرسو پرته، چې په کلیوالي کچه پر سوداګرو او مشتریانو پلورل کېږي، زیاتره کورنۍ له دغه استثناوي څخه برخمني دي، چې خپل کرنیز محصولات په باغ، کلي او په کندهار ښار کې خرڅلاو ته وړاندې کړي. بازار موندنه په ټولیزه توګه په دوه بڼه ترسره کېږي. د انارو په برخه کې، زیاتره کروندګر، ټول باغ د یوې ټاکلې بیې په بدل کې خرڅوي (د بېلګې په توګه ۵ جریبه انار پر ۱.۵ میلیون پاکستاني کلدارو [۲۱۴,۱۵۰ ډالرو]). کله چې د کرنیزې توکي بیې په اړه د محصول اخیستلو تر فصل وړاندې هوکړه شوې وي، نو معمولاً بیه ټیټه وي؛ ځکه د فصل د اخیستو پرمهال، دغه بیه، د بازار له اوسنۍ بیې سره په توپیر کې وي. د زیاترو توکو لکه ترکاریو او انګورو په برخه کې، بزګران دغه محصول د اخیستو تر فصل وروسته هم په کلي او په کندهار ښار کې د بازار له اوسنۍ بیې سره سم خرڅوي. کله چې په کندهار ښار کې د تقاضا کچه لوړه وي، نو سوداګر او اخیستونکي د محصولاتو د اخیستو په موخه کلیو ته راځي. که چېرې بزګران پیسو ته بیړنۍ اړتیا ولري، نو خپل توکي بازار ته لېږدوي.

هېڅ کورنۍ د بازار موندنې په برخه کې د کوم محدودیت په اړه خبرې و نه کړې، یوازې ځېنو یې د بیو له ټیټوالي څخه شکایت وکړ. د حیرانتیا وړ خبره دا ده، چې یوازې له ۱۵۰ څخه، ۳۹ کورنیو خپله لېوالتیا وښودله، شکایت وکړي، چې د خپلو حاصلاتو په بدل کې ښه بیه نه ترلاسه کوي او یو شمېر نورو یې بیا د نباتي ناروغیو او ځېنو نورو لاملونو په اړه شکایت وکړ، چې د محصول د بیو په ټیټوالي کې ونډه لري. په دوبي کې د ترکارۍ او سابه د حاصل اخیستلو په فصل کې، زیاته ګرمۍ د کروندګرو په وړاندې خنډ ګرځي، ترڅو د یوې ښې بیې په تمه خپل محصولات وساتي، په پایله کې دوی اړ کېږي، چې په یوه ډېره ټیټه بیه خپل محصول خرڅ کړي. ځواب ورکوونکو د خپلو توکو د ترانسپورټېشن په اړه د کومې ستونزې یادونه و نه کړه. په نلغام کې، ځایي وګړو وویل، چې د خپلو توکو د لېږدولو په موخه له هغه سړک څخه ګټه اخلي، چې څو کاله مخکې د جګړو پرمهال نړیوالو ځواکونو جوړ کړی، او هغه مهال، دوی له دې امله، چې د دوی ملکیتونو ته زیان رسېږي، د دغه سړک د جوړېدو په وړاندې اعتراض کړی و.

د تر سروې لاندې کورنیو نژدې یو پر درېیمې برخې راپور ورکړ، چې د دوی د کورنۍ یو غړی ټول وخت په کرونده کې کار کوي. د استخدام نورې لویې برخې، په امنیتي ارګانونو کې دنده او دکانداری ته شاملېږي (هره ۲۱ کورنۍ). له هغو کورنیو څخه، چې غړي یې د امنیتي ځواکونو په یو ارګان کار کاوه، لس تنه یې په مشخص ډول د سیمه ییزو پولیسو په لیکو کې دنده ترسره کوي. نورې کاري ځانګې په لاندې ډول دي: روزمزدي (۱۱)، د ګاډو یا زرنج[7] چلوونکي (۸)، ښوونې روزنې (۳)، نورې دولتي دندې (۵) او په نورو میخانیکو برخو کې کار (۳). په کندهار او لشکرګاه ښارونو کې ډېر کاري فرصتونه موجود و، چې د هغو سیمو اوسېدونکو ته ډېره کاري موکه برابروي، چې کندهار ښار ته نژدې موقعیت لري. له دې سره چې دغه سیمې، پاکستان ته نسبتا په نژدې واټن کې موقعیت لري، خو یوازې دوو کورنیو وویل، چې غړي یې هلته کار کوي. ویل کېږي، چې د سیمې یو شمېر اوسېدونکي په پاکستان کې د خښتو په بټیو کې کار کوي، خو لکه څرنګه چې په پورته کې هم ورته اشاره وشوه، زیاترو ځواب ورکوونکو یادونه وکړه، چې دوی له پولې ها خوا کار څخه ډډه کوي، ځکه کله چې دوی هلته سفر کوي، نو ځورول کېږي. ایران د کندهار د دغو کلیوالي سیمو د کاري ځواک لپاره کاري مقصد نه دی، په دې برخه کې تر ټولو لویه ستونزه د ژبې مسله ده. همدا راز یادونه کېږي چې یو شمېر ځوانان د کوکنارو حاصل د اخیستلو په فصل کې هلمند ته ځي.

ځوانان دغه چاره، میله ګڼي. ځکه دغه چاره په ورته وخت کې، هم د عاید د ترلاسه کولو لپاره یوه موکه او همدارنګه د دوی د تفریح او خوشالیو لپاره یو فرصت هم دی. ویل کېږي، کارموندنه او استخدام د موبایل تیلفون له لارې ترسره کېږي، لکه څرنګه چې کار ګوماروونکي د تېر کال کارګرانو ته زنګ وهي، که ممکن وي دوی له ده سره یو ځل ووینې. په دیمراسي کې د کار ورځنۍ مزد ۲۵۰ افغانۍ (۳.۷۰ ډالر) یا ۴۰۰ پاکستاني کلدارې (۳.۸۰ ډالر) دی.

د انارو د حاصلاتو د اخیستلو فصل، په هغو سیمو کې، چې هلته د انارو باغونو شته، د کاري فرصتونو د رامنځته کولو لپاره یوه ښه سرچینه ګڼل کېږي. په شوین سفلا کې ځواب ورکوونکو وویل، هغه کسان، چې په دغه برخه کې کار کوي، د ورځې له ۵۰۰ تر ۶۰۰ پاکستاني کلدارو (۴.۷۰ تر ۵.۷۰ ډالرو) پورې ورځنۍ مزد ترلاسه کوي، ان مسلکي کارکوونکو ته تر ۱۵۰۰ کلدارو (۱۴.۱۰) پورې هم ورکول کېږي – مسلکي کارکوونکي هغه کسان چې پر دې پوهېږي، د انارو چیندلو ته څرنګه رسیدنه وکړي او دې ته وګوري، چې په یو نازک کارټن کې، څومره او په کوم سایز انار ځای پرځای کول مناسب دی، ترڅو د لېږدولو وړ وي. یوازې ۱۴ کورنیو وویل، چې دوی پر ۲۰۱۴/ ۲۰۱۵ ز. کال پوروړی شوی دی، او همدارنګه همدومره شمېر کسان څرګند کړل، چې د تېرو کلونو پورونه لا پرې پاتې دي.

شپږ ځلو ښت کورنیو وویل، چې د تېر کال په لړ کې یې په خپل ژوندانه کې مهم بدلونونه یې تجربه کړې، له دې جملې څخه ۲۲ د مثبتو بدلونونو او ۲۶ کورنیو د منفي بدلونونو په اړه راپور ورکړ. د دوی په ژوندانه کې د یو مثبت بدلون لپاره تر ټولو ستر لامل دا و، چې د دوی د کورنۍ یو غړی په امنیتي ځواکونو کې دنده ترسره او معاش ترلاسه کوي؛ ورپسې د دغه مثبت لامل، د حاصلاتو ښه والی ښودل شوی و. د دوی په ژوندانه کې د منفي بدلون تر ټولو ستر لامل په لومړي ګام کې د حاصلاتو کموالی (په ځانګړې توګه د انارو حاصلات، د تېر کال د اورښتونو له امله زیانمن شول)، ورپسې د دوی په اند، د امریکایانو له خوا د کوکنارو پر کروندو د موادو د شیندلو له امله د دوی د حاصلاتو زیانمنېدل و (په لاندې برخه کې به تشریح شي).

یوازې د مرغانو سیمې په اړه راپور ورکړ شوی، چې هلته هلکان او نجونې دواړه ښوونځي او مدرسې ته ځي او طالبانو پر دغه چاره او د نجونې پر زده کړې نېوکه نه ده کړې. ټولو ځواب ورکوونکو وویل، چې د پرمختیایي مرستو په کچه په بې ساري توګه کمښت راغلی دی، چې دا په خپله د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته وضعیت انځوروي. له ۱۵۰ څخه یوازې اوه کورنیو د تېر کال په بهیر کې په سیمه کې د پرمختیایي مرستو د ترسره کېدو په اړه راپور ورکړ. دغه مرستې د پلونو، پلچکونو، حایل دیوالونو د انګورو یو زیرمه ځای جوړولو ته شاملېږي. هېڅ یوه کورنۍ په تېر کال کې تخم او کیمیاوي کوډ نه دی ترلاسه کړی. په شوین سفلی کې له یو کشمش خونې پرته، چې پر ۲۰۱۴ جوړ شوی، ټولو وویل، چې نور کوم کار نه دی ترسره شوی. ټولو راپور ورکړ، چې دوه کلونو مخکې دورو کې، له سیمې سره هر راز پرمختیایي مرستې ترسره کېدلې لکه: (د کانالونو پاکول، د حایل دیوالونو، پلچکونو جوړول) خو له تېرو دوو کلونو راهیسې دا هر څه ځنډېدلی دی[8].

7. یو ډول ماشین دی، چې د کسانو او توکو د لېږد په موخه، پرې بېلابېل ډول باډی نصبېږي.

8. لکه څرنګه چې په پورته ورته اشاره وشوه، د امریکا د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا تمویلېدونکي د کندهار د خوړو زون پروګرام (KFZ) هغه څو اړخیز درې کلن بدیل پرمختیایي پروګرام دی، چې د پنجوایي او ژیړي په ګډون د کندهار په اوو ولسوالیو کې په لاره اچول شوی دی. (KFZ) په ژیړي او پنجوایي ولسوالیو کې د شپږو کانالونو (چې درې یې د ساحوي کار په سیمو او یا ورته نژدې دي) د جوړولو او بیارغونې په اړه راپور ورکړ.

# ۶. ترياک او له نشه يي توکو سره مبارزه

د کوکنارو د کرکيلي د پراختيا له پلوه، د ساحوي څېړنې سيمې مختلفې دي. لکه څرنګه چې په پورته کې هم يادونه وشوه، داسې سيمې هم وې، چې کوکنار پکې نه و کرل شوی، لکه (يوازې يوه کورنۍ) په ارغنداب کې. په داسې حال کې، چې تر څېړنې لاندې سيمې په دوو نورو ولسواليو کې بيا کوکنار کرل شوی و. د پنجوايي په ديمراسي کې کې نارسمي اټکلونو د دې ښودنه کوله، چې د دغه سيمې نيمايي خلکو لږترلږه د خپلو ځمکو پر ځېنو برخو کوکنار کرلی دی. البته د کوکنارو کروندې سړک او ولسوالي مرکز ته نژدې سيمو کې نه وې، بلکې زياتره د ولسوالۍ په ختيځه او سويلي برخو کې کرل شوی و، چې تر ډېره د يادې ولسوالي په تلوکانو او سپروانو کې تر سترګو کېده. د ژېړي په اشقه کې د کوکنارو کرکيلی محدود و، ځکه دلته په ځانګړې توګه سيند ته نژدې ځمکو کې، له ميوو او نورو نغدي محصولاتو څخه ښه عايد ترلاسه کېږي. له بلې خوا د دغې ولسوالۍ په کلک ميرسن زی په ځانګړې توګه د سړک شمال پلو ليرې دښتو کې، دغه بوټي په پراخه کچه کرل شوی و، په دې توګه، چيرې چې د امنيت کچه ټيټه وي، هلته د کوکنارو کرکيلی زيات دي. په دغو سيمو کې، يو شمېر خلک د ځمکو په هغه وېش کې، چې له وخته مخکې ترسره شوی و، له پامه غورځول شوي و؛ سربېره پر دې، د سيمه ييزو پوليسو له خوا د نه ملاتړ کېدو په پايله کې، له طالبانو سره يې خواخوږي زياته شوې وه، چې په خپل وار د سيمه ييزو پوليسو له خوا يې د کوکنارو د کروندو د له منځه وړلو له امله، ناهيلي شول. په پای کې، په نلغام کې د سيمه ييزو، ملي پوليسو او ملي اردو ځواکونو له شتون سره سره، په دغه سيمه کې د کوکنارو کرکيلي پراختيا موندلې ده. په ژېړي کې د ساحوي څېړنې په دريو سيمو کې، دوه پر دريو برخو کورنيو کوکنار کرلی، چې د سيمې د ځمکو تر ۲۰ سلنې زياته برخه جوړوي. له **۵۷** کورنيو څخه، چې کوکنار يې کرلی و، د هېڅ يوه کروندې له منځه وړل شوې نه وې.

لکه څرنګه چې مو مخکې هم يادونه وکړه، له تېر کال راهيسې د کوکنارو د کرکيلي په برخه کې ډېر زياتوالی نه ترسترګو کېږي. په همدې حال، يو شمېر کورنيو په ځېنو کليو لکه: (تلوکانو، نلغام او کلک ميرسن زی) د کوکنارو د کرکيلي په کچه کې زياتوالی راوستی دی. په نلغام کې په هغو سيمو کې کوکنار کرل شوی و، چې هلته د دولت واک محدود او د ولسوالۍ له مرکز څخه ليرې پرتې وې. په کلک ميرسن زی سيمه کې، کوکنار د اصلي کلي په شمال کې کرل شوی و؛ او بل په دښته کې، چيرې د امنيت کچه ټيټه وه، د کوکنارو کښت زيات شوی و. لکه څرنګه چې د ژورو څاه ګانو د کېندنو لومړنيو او د هغه د چلولو لپاره د جنراتور د تيلو تکراري لګښتونو ته په پام سره، د غنمو د کرکيلي عوايد ناکافي دي، نو ويل کېږي، چې ميرسن زي ته نژدې دښته کې به له ۶۰ تر ۷۰ سلنه ځمکو باندې کوکنار کرل شوی وي.

په داسې حال کې، چې د کوکنارو د کرکيلي اصلي موسم، د کرکيلي ژمنی فصل دی، خو په سپروان او تلوکانو کې په ترتيب سره اوه او پنځو کورنيو وويل، چې د **۲۰۱۵** ز. کال په دوبي فصل کې يې کوکنار کرلی، چې ټولټال ۱۸ جريبه په سپروان او ۱۰ جريبه په تلوکانو کې جوړوي. په دوبي کې تود اقليم او د اوبو کمښت ته په پام سره، دا يوه ډېره غيرمعموله چاره ګڼل کېږي.

په يو شمېر سيمو کې ځواب ورکوونکو وويل، چې د کوکنارو د کرکيلي کچه يوازې د يوې اقتصادي پرېکړې پر بنسټ راټيټېدای شي: «دغه پرېکړه چې کوکنار وکرل شي او کنه، په ګټې پورې تړلې ده، نه د حکومت په خبرو؛ که اشرف غني دلته راشي، دوی به بيا هم وکري.» په ځېنو برخو کې، کورنۍ کوکنار نه دی کرلی، لامل يې دا دی، چې د دوی د ميوو او نورو کرنيزو توکو حاصلات، امنيتي کارکوونکو ته د رشوت د ورکړې له فشار او له دې انديښنې څخه پرته چې مواد به وربانديې وپاشل شي او ځمکې يې زيانمنې شي، ښه عايد لري. په ديمراسي کې د کوکنارو د کرکيلي کچه راټيټه شوې او لامل يې دا دی، چې ځمکه يې مالګينه [شوره]، «د امريکايانو له خوا د موادو پاشلو په پايله» ځمکه يې زيانمنه شوې او د حاصل په نسبت د لګښت کچه لوړه ده. د کرکيلي په کچه کې ټيټوالی يا يې ځنډېدل، د حاصل لوړ لګښت، د موادو د «شيندلو» له اغېزو څخه ويرې، د باغي محصولاتو جذابيت او د محصول دوراني اړتياوو ته شاملېږي. همدارنګه حکومتي مرکزونو ته نژدېوالي هم په دې برخه کې ونډه لري، لکه څرنګه چې کندهار ښار ته څېرمه په ناګهان سيمه کې دغه مسله تر سترګو کېږي.

د (اوبو، کاري ځواک او کيمياوي توکو) لګښتونه کولی شي، د بديل په توګه د يو شمېر نورو محصولاتو لکه ختکيو او ترکاريو کرل، لا په زړه پوری کړي. په ميانجوی کې يو ځواب ورکوونکي وويل: «موږ کوکنار نه کرو، ځکه موږ له توليد او محصولاتو ډک باغونه لرو. ان که حکومت موږ ته پيسې هم راکړې، چې يې وکرو، خو موږ يې نه کرو. لګښتونه کومه معنا نه لري [لګښتونه يې نه پوره کېږي]»[9] په پنجوايي او ژېړي کې پر ۲۰۱۴/ **۲۰۱۵** ز. کال د کوکنارو د حاصلاتو په اړه راپور ورکړ شوی، چې له هرې جريبې ځمکې څخه به له ۱ تر **۲.۵** منه پورې حاصل واخيستل شي.

په ټولو سيمو کې، دغه ټوليز او ټينګ باور شتون درلود، چې «د بهرنيانو له خوا د موادو شيندل» پر ګلانو سرسري اغيزې نه، بلکې غوزه[10] خپل هدف ګرځوي او له شيرې څخه يې خالي کوي، د دې ترڅنګ نور کرنيز محصولات هم زيانمنوي. ويل کېږي، چې د الوتکې په وسيله د موادو شيندل، په کال کې دوه ځله ترسره کېږي، او ځواب ورکوونکو، د دغو موادو د شيندلو په پايله کې، سپين کيمياوي توکي داسې انځور کړه، لکه د ديوالونو په بيخ کې چې سپينه واوره راټولېږي.

ټولو ځواب ورکوونکو د مرکو په بهير کې وويل، چې لا تراوسه د **۲۰۱۵/۲۰۱۲** ز. د کرکيلي فصل په اړه معلومات نشته او نه د له منځه وړلو کمپاين ترسره شوی، که څه هم لا ډېر ژر دی، ځکه چې د هېواد په دغه سيمه کې د له منځه وړلو کمپاين په مارچ او اپريل مياشتو کې په لاره اچول کېږي. تېر کال، چارواکو په يو شمېر سيمو کې د کرکيلي تر فصل وړاندې ځېنې مشران راټول کړل، ترڅو دغه پيغام ورته ورسوي، چې د مواد شيندلو کمپاين به ترسره شي، خو داسې ښکاري، چې سږ کال نه دی ترسره شوی. (له نشه يي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر له راپور سره سم، د **۲۰۱۴/۲۰۱۵** ز. کال د کرکيلي فصل په مهال، په دغه ولايت کې **۳۹۲** هکتاره ځمکه له کوکنارو څخه پاکه شوې، چې د ۲۰۱۳/۲۰۱۴ ز. کال په پرتله پنځه برابره زياتوالی ښيي). په همدې حال، د دغه ساحوي کار په پای کې د جنوري پر ۱۸ مه سروې کوونکو راپور ورکړ، ولسوال د کندهار ولايت د راډيو تلويزيون له لارې اعلان وکړ، چې دی د د يمراسي او سپروان له کروندګرو سره په يوه ناسته کې د پرمختيايي پروژو د پليتوب د ژمنې په بدل کې، د ټراکټورونو په وسيله د دوی د کوکنارو کروندو د له منځه وړلو په تړاو يوې هوکړې ته رسېدلې دي. په همدې ورځ طلوع نيوز په پنجوايي کې د کوکنارو کروندو د له منځه وړلو «پراخ کمپاين» په اړه راپور ورکړ او زياته يې کړه، چارواکو ژمنه کړې، چې د سيمې اوسيدونکو د نورو قانوني کرنيزو محصولاتو د خرڅلاو لپاره به بازار ته د ښې لاسرسي په موخه اسانتياوې رامنځته کوي. څارونکي پوښتنه مطرح کړې، چې په ضميمه کې انځور (۲ انځور) هېڅکله د کوکنارو د له منځه وړلو او ان د کوکنارو د کروندې ښودنه نه کوي، لکه څرنګه چې هلته هېڅ نباتي بوټی نه سترګو کېږي.

---

۹ . د ارغنداب په ميانجوی کې له يو بزګر سره مرکه، د **۲۰۱۵** ز. کال د دسمبر ۳۰ مه.

۱۰ . د دغه ټينګ باور په تړاو د نورو سيمو په ځانګړې توګه هلمند په اړه هم راپور ورکړل شوی، وګورئ: ډيويډ منسفيلډ، «له بدو يې بدتر کړ: د هلمند او ننګرهار په جنګي سيمو کې د کوکنارو د کرکيلي تمرکز» (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره AREU ، ۲۰۱۴ ز. مې).



دویم انځور: د کوکنارو د له منځه وړلو انځور. سرچینه: طلوع نیوز: «د کندهار په پنجوایي کې د کوکنارو د له منځه وړلو کمپاین»، د ۲۰۱۲ ز. کال د جنوري ۱۸ مه

په کلک میرسن زي کې خلکو شکایت وکړ، چې د تېر کال کمپاین یوازې د کوچنیو کروندګرو په کروندو کې ترسره شو. په سپروان کې کروندګر د پاکولو له کمپاین سره عادت کړی او سړک ته نژدې سیمو کې کوکنار نه کري. دوی په خپله خوښه له جنجال پرته سیمه ییزو پولیسو ته پیسې ورکوي.

د چرسو حاصلات، چې د غنمو تر کرکیلي وروسته کرل کېږي، اخیستل شوي دي. د یو شمېر سیمو لکه بلخ پرخلاف، چې د افاتو د مدیریت او پټولو په موخه، چرس د نورو محصولاتو لکه د پنبې کروندو په دننه په مخلوط ډول کرل کېږي، د کندهار په دغو سیمو کې په ښکاره او یوازې بڼه کرل کېږي. دا ځکه چې د راپورونو له مخې، دلته له دې څخه وېره نشته، چې چارواکي د له منځه وړلو په موخه یې کوم اقدام وکړي (۳ انځور وګورئ).

د تریاکو سوداګرۍ د سیمه ییزو سوداګرو له خوا، چې پیري یې او لېږدوي یې، ترسره کېږي. دوی په دې برخه کې، له داسې شبکې څخه کار اخلي، چې د سیمه ییزو پولیسو، ملي پولیسو او نورو چارواکو سره هم اړیکه لري. واسطه سیمه په بر کې یوه ځواکمنه کړۍ ده: لکه څرنګه چې یو ځواب ورکوونکي وویل: «که زه یو وزیر وپېژنم، نو دا به دومره ګټور نه وي، لکه یو څوک، چې په سیمه کې د سیمه ییزو پولیسو یو ټیټ پوړی سرتیری پېژني». (د ساحوي کار پر مهال، د تېر کال یو من خام تریاک له ۷۰۰ تر ۹۰۰ ډالرو پورې خرڅېده، خو بیا هم د اوبو په کچه پورې تړلې ده).



دریيم انځور: د چرس بوټي چې وچېږي او لا هم په کرونده کې ولاړ دي، کندهار ولایت، د ۲۰۱۵ ز. کال دسمبر

# ۷. پایله

د دغه ساحوي څېړنې، چې د ۲۰۱۲/۲۰۱۵ ز. کال د کرکیلي تر ژمني فصل وروسته، د کندهار د دریو ولسوالیو په لسو سیمو کې ترسره شوې، لومړنۍ کتنې او مشاهدات، هغه کتنې او مشاهدات تاییدوي، چې د افغانستان له نورو سیمو څخه ترلاسه شوي دي: کروندګرې کورنۍ په هغو سیمو کې، چې امنیت یې ښه خوندي او بازار ته ښه لاسرسی ولري – چې په دې مورد کې کندهار ښار دی – کېدای شي، چې د کوکنارو له کرکیلي لاس واخلي او د نورو قانوني کرنیزو توکو کرکیلي ته مخه کړي. داسې ښکاري، چې ښه او مرفه سیمې هغه دي، چې هلته هغه باغونه په ځانګړې د انارو او انګورو (د ببلګې په توګه ارغنداب او په ژیړي کې اشقه) دي، چې د تېرو جګړو پرمهال وران شوي او اوس بېرته رغول کېږي. په یادو سیمو کې کوکنار نه کرل کېږي او د غنمو کرکیلی هم لږ دی. ویل کېږي، د کوکنارو د نه کرکیلي په تړاو پرېکړه، د دولتي فشارونو د پایلې په پرتله، تر ډېره یوه اقتصادي موضوع ده. د دوبي د یو کرنیز محصول په توګه د ریحانو کرکیلي په تېرو دریو کلونو د پام وړ زیاتوالی موندلی دی. په لږو شتمنو سیمو (لکه، په پنجوایي کې د ساحوي څېړنې په ټولو سیمو او د ژیړي په کلک میرسن زی) کې، کورنۍ تر ډېره د کوکنارو او غنمو په کرکیلي پورې تړلي دي. په ټولو دغو سیمو کې، د کوکنارو کرکیلي په دښتو کې ډېره زیاته پراختیا موندلې ده.

لومړنۍ کتنې همدا راز د هغې وندې پر ارزښت هم ټینګار کوي، چې له جغرافیایي، موقعیت، اوبه/ځمکې سرچینو او همدارنګه د سیمه ییزو سیاسي شرایطو او تاریخي پلوه په پام کې نیول کېږي. د ساحوي څېړنې په زیاترو سیمو کې، ځواب ورکوونکو وویل، امنیتي وضعیت د تېرو کلونو په پرتله ښه شوی او خلک په ټولیزه توګه له دولت سره یا همکاري لري او یا یې لږترلږه زغمي؛ ځکه دوی طالبانو ته د پردي په سترګه کتل، چې په تېرو کلونو کې پر سیمه د خپل حاکمیت په دوران کې پر خلکو ظالمانه او له تاوتریخوالي ډک شرایط تپلي و. د افغانستان د نورو سیمو په شان، دلته هم د سیمه ییزو پولیسو په اړه نظرونه مختلف و. په داسې حال کې، چې د سیمه ییزو پولیسو زیاتره سرتیري د کوکنارو د کرکیلي د نورو لاروچارو د غوره کولو په بدل کې، له خلکو څخه پیسې اخلي، خو دغه چاره، ځکه د زغملو وړ وه، چې د هغو شرایطو په پرتله، چې په تېرو کلونو کې د طالبانو له خوا وضع شوي و، افراطي او د وېراندوینې وړ نه و.

ځواب ورکوونکو بازار ته د خپلو کرنیزو توکو د لېږد پر لاره د کومې ستونزې یادونه و نه کړه او د حیرانتیا وړ خبره دا ده، چې د ځواب ورکوونکو ډېر کم شمېر د خپلو کرنیزو توکو د بیو د ټیټوالي په اړه شکایت وکړ. د سروې شویو کورنیو له جملې نژدې یوه پر دریمه برخې یې وویل، چې د دوی د کورنۍ یو غړی ټول وخت په کرونده کې کار کوي. په داسې حال کې چې د استخدام ستره ځانګه، په امنیتي ځواکونو دنده جوړوي. ټولو ځواب ورکوونکو وویل، چې د تېرو دریو کلونو په بهیر کې د پرمختیایي مرستو په کچه کې ډېر زیات کموالی رامنځته شوی دی، چې دغه چاره د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته وضعیت انځوروي.

ساحوي څېړنې د اندېښنو دوه مهم ټکي په ګوته کوي. لکه د دغې سیمې په ګاونډ هلمند کې، دلته هم د تر ځمکې لاندې اوبو کچه راټیټه شوې او د لا ژورو څاه ګانو کېندو ته اړتیا شته. د ستونزمنو شرایطو په شتوالي سره، خلک دښتو ته تګ او پکې استوګنې ته دوام ورکوي، چیرې چې هلته د دولت نفوذ کم او کوکنار یوازینی محصول دی، چې دوی ته اجازه ورکوي، د خپل کرنیز محصول لګښتونه (عمدتا تېل) پوره کړي. له سولري واټرپمپونو څخه د ګټه اخیستنې پراختیا لړۍ کولی شي، دغه دوه سره تړلي لېوالتیاوې پیاوړې کړي: په دښتو کې مېشتېدل او د کوکنارو د کرکیلي پراختیا.

# دڅرګندونولپاره ستاسي غوښتنې

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ډېره علاقه لري چې ستاسو څخه اوري. په هر صورت که تاسی د دی واحد خپرونو لوستونکی یاست، یا مو د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد کې په لکچر یا ورکشاپ کې ګډون کړی وی، یا مو له کتابونو څخه استفاده کړې وی، یا مو د ادارې له کارونو او څېړنو سره آشنایی پیدا کړې وی، ستاسي څرګندونې او غوښتنې زمونږ لپاره ډېر د ارزښت وړ دی، ستاسی وړاندیزونه له مونږ سره مرسته کوی ترڅو خپل هدف په ښه توګه تعقیب او د خپلو کارونو لاسته راوړنې په ښه څیر د خپلو خبرونو له لوستونکو سره شریکې کړو.

ترټولوآسانه لار د څرګندونو لپاره ستاسي غوښتنی د بریښنالیک له لاری areu@areu.org.af همدارنګه تاسي کولای چې له مونږ سره په اړیکه کې شي۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+

تاسي په خپلواکه توګه نظرورکولای شی، اماستاسی ځوابونه او معلومات په دی اړه زمونږ لپاره ډېر ارزښناک تمامیږی

- له دی ادارې او ددی اداری له څېړنوسره څنګه اشناشوی(دخپرونوله لاری، یاددی اداری په غونډو یا مجلسونو کې ګډون له لاری)
- دافغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد له څېړنو د څه لپاره استفاده کوی
- دافغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد څېړنې څنګه ترلاسه کوی
- آیا له خپرونونه په بریښنایې یا چاپی څیر استفاده کوی
- دخپرونو معلومات تاسو ته څه دول وړاندی شی
- ستاسو وړاندیزنه ددی اداری د څېړنو په اړه څه شی دی
- د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد کومه خپرونه یا پیښه تاسو ته په زړه پوری ده؟
- ستاسي په باور په کومو مواردو کې زمونږ کارونه ګټور تمامیږی
- علاقه، ددندی ساحه او یا ستاسی د مطالعی ځای

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد ورستنی خپرونې

| نیته | د خپرونې نوم | لیکوال | پښتو | دري | دڅېړنې موضوع | د څېړنې دول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اپریل ۲۰۱۶ | د شګو پر بنسټ د حکومت جوړونه: اپینو افغانستان څنګه کمزری کړ؟ | دیوید منسفیلد | | | د طبیعي سرچینو مدیریت | کتاب |
| اپریل ۲۰۱۶ | په کندهار ولایت کې د ساحوي کار په اړه لنډ یادښت، د ۲۰۱۵ دسمبر او ۲۰۱۶ جنوري: کوکنار او کلیوالي معیشت | پاول فیشستین | ✔ | ✔ | د طبیعي سرچینو مدیریت | لنډیز |
| مارچ ۲۰۱۶ | افغان ملي اردو د آیساف نه وروسته | انتونیو جیستازی او علی محمد علی | | | حکومتداری | توضیح پاڼه |
| فبروري ۲۰۱۶ | اصل په جزییاتو کې دی: د بغاوت، تاوتریخوالي او نشه يي توکو د پراخ تولید په لمنه کې د ننګرهار مخ په زیاتېدونکی سقوط | دیوید منسفیلد | ✔ | ✔ | د طبیعي سرچینو مدیریت | لنډیز |
| جنوري ۲۰۱۶ | د جنسیت د نابرابروالي بله خوا (بل اړخ): په افغانستان کې نارینه او نارینتوب | چونا آر. اچاوز، سید مهدی موسوی او لیحه ویلفر داری | ✔ | ✔ | جندر | تحلیلی څېړنه |
| جنوري ۲۰۱۶ | په کورنیو کې د اوبو نا خوندیتوب: په افغانستان کې د څښلو اوبو ته د پایښت وړ لاسرسی، د حقایقو د بیه روښانولو لپاره د بیلګو بدلون | ونسنت توماس | ✔ | | پایښت لرونکی معیشت | مباحثوی څېړنه |
| دسمبر ۲۰۱۵ | هلمند د خوځښت په حال کې: د فصل د ناکامی له کبله کډوالی ته مخه | دیوید منسفیلد | ✔ | ✔ | د طبیعي سرچینو مدیریت | لنډیز |
| نومبر ۲۰۱۵ | ۹۰٪ سلنه ریښتیني، په یو اجاروي اقتصاد کې پورته والي او غورځیدنه، کیسي د کندهار افغانستان نه | جولیا مینویا، ادم پین | | | پایښت لرونکی معیشت | کاري قاعده |
| اکتوبر ۲۰۱۵ | ښځې او ټاکنې: په راتلونکې پارلماني ټاکنې کې اسانتیاوې او پر مخ پراته خنډونه | اورځلا نعمت اشرف | ✔ | ✔ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| اکتوبر ۲۰۱۵ | د اوج ټکي ته رسېدل: په افغانستان کې له سیاسي پلوه د لوړو ښوونځیو فعالیدل | انتونیو جیستازی او علی محمد علی | ✔ | ✔ | حکومتداری | تحلیلی څېړنه |
| اکتوبر ۲۰۱۵ | په افغانستان کې کلیوالي جوړښت ته پاملرنه | ادم پیین | ✔ | ✔ | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| اکتوبر ۲۰۱۵ | په بلخ ولایت کې د ۲۰۱۵ کال د می میاشتې د اپیمو او کلیوالي اقتصاد په تړاو د ساحوي کار یادښتونه | پاول فیشستین | ✔ | ✔ | د طبیعي سرچینو مدیریت | لنډیز |
| می ۲۰۱۵ | د افغانستان په اساسی قانون کی د قواوو جلاوالی: یوه موضوعی څېړنه | فرید حمیدی او ارونی جیاکودی | ✔ | ✔ | حکومتداری | موضوعي څېړنه |
| می ۲۰۱۵ | په افغانستان کې ولایتي سیاست او حکومتولي: دکندهار ولایت بېلګه | اشلی جکسن | | | پایښت لرونکی معیشت | کاري قاعده |
| می ۲۰۱۵ | په افغانستان کی د کلیو دوول پیژندني دجوړولو لپاره د کلستر ډوله تحلیل څخه ګټه اخیستنه | ادم پین او جورجیا سترج | | | پایښت لرونکی معیشت | کاري قاعده |
| اپریل ۲۰۱۵ | د افغانستان د څېړنو خبر پاڼه - ۳۱ ګڼه | د افغانستان د څیرنی او ارزونی واحد | | | | څیرنیز خبرپاڼه |
| اپریل ۲۰۱۵ | په افغانستان کی د قواوو جلاوالی: تیوری او عمل | ارونی جیاکودی | ✔ | ✔ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۵ | په افغانستان کې د اساسي حقونو تدریجي تکامل: ۱۹۲۴-۲۰۰۴ | ارونی جیاکودی | ✔ | ✔ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| مارچ ۲۰۱۵ | د الف څخه تر یا د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود دیارلسمه ګڼه ۲۰۱۵ | د افغانستان د څیرنی او ارزونی واحد | ✔ | ✔ | | کتاب |
| فبروری ۲۰۱۵ | په افغانستان کې ولایتي سیاست او حکومتولي: دننګرهار ولایت بېلګه | اشلی جکسن | ✔ | ✔ | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| فبروری ۲۰۱۵ | د کار بازار، ټولنیزه نابرابری او په کابل کې ګډونکي | ریچارد مالت او ادم پین | ✔ | ✔ | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| جنوری ۲۰۱۵ | د پیاز ټولنیز اهمیت: د افغانستان په ننګرهار کې د پیازو د بازار غیر رسمي قواعد او مقررات | جولیا مینویا، ادم پین او ومیق الله ممتاز | ✔ | ✔ | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| دسمبر ۲۰۱۴ | کوچنیان ولې یوازې سفر کوی؟ د کوچنیانو، کورنیو او له افغانستان څخه د استوونکو ټولنو له نظره اروپا او نورو صنعتی هیوادونو ته د تګ انګیزې | چونا آر. اچاویز<br>جنیفر بګاپورو<br>لیحه ویلفر داری<br>شکریه آزادمنش | ✔ | ✔ | پایښت لرونکی معیشت | تحلیلی څېړنه |
| نوامبر ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د ښځو او رهبریت: درسونه او وړاندیزونه | آریه نجات | ✔ | ✔ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| نوامبر ۲۰۱۴ | د خلکو بنسټیزو حقونو ته یو ګواښ: ننګوتی او فرصتونه | داکتر رنګین دادفر سپنتا | ✔ | ✔ | حکومتداری | موضوعي څېړنه |
| اګست ۲۰۱۴ | د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو کومې ستونزې مطرح دي؟ | داکتر محمد هاشم کمالی | ✔ | ✔ | حکومتداری | تحلیلی څېړنه |
| اګست ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو شخړو د حل لپاره د میکانیزمونو وضعیت | ارونی جیاکودی | ✔ | ✔ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې دي، او همدا راز نومورې واحد په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه، د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې دترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړي کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې بنسټ (AREU) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه یو بورد لري چې د مرستندویو ادارو، لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري.

په ۱۳۹۴ کال کې د دغه بنسټ د څانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي اتحادیی (EU)، د نړیوال پرمختګ انسټیټوټ (ODI)، نړیوال بانک، د امریکا د سولې انسټیټوټ (USIP)، د نړیوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې ((GIZ-BMZ)، د ختیځ او افریقایی مطالعاتو لپاره د لندن پوهنتون (SOAS)، د امریکی د متحده ایالاتونو د نړیوال پرمختیا سازمان (PROMOTE -USAID)، د هالند علمی څیرنو دفتر (NWO)، د غنمو او جوار د تحقیقاتو بین المللی مرکز (CIMMYT)، د حکومتداری د امنیت ګروپ (SGG)، په مرکزی آسیا کی د کرنی او خورلو د پیاورتیا اداره (LANSA) اود بریتانیا اداره د جنګ ځپلو ماشومان لپاره (War Child UK) لخوا تر سره کېږي.

ژباړن: خادم احمد حقیقی

د نشریه کود: ۱۲۰۵P

ISBN ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۲۸-۰۲-۹ (بریښنایی نسخه)

ISBN 978-9936-628-06-9